د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 439**

(16 سرطان – 22 سرطان 1403 هـ ش)

## د افغانستان په اړه د دوحې درېیمې غونډې ته یوه کتنه




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د دوحې د درېيمې ناستې موخې ........ 3
- د دوحې د درېيمې ناستې او تېرو غونډو ترمنځ توپير ........ 4
- د دوحې په دريمه ناسته کې د بحث موضوعات ........ 5
- د دوحې د دريمې ناستې لاسته راوړنې ........ 6
- د اسلامي امارت لپاره د دوحې د ناستې لاسته راوړنه ........ 6
- پايله ........ 7
- وړانديزونه ........ 8
- مأخذونه ........ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د افغانستان په اړه د دوحې درېیمې غونډې ته یوه کتنه

### سریزه

په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو او له افغانستان سره د نړۍ د هېوادونو اړیکو له پرې کېدو وروسته، نړیوالې ټولنې د افغانستان د بشري او اقتصادي وضعیت د ښه والي او همدارنګه له اسلامی امارت سره د تعامل او اړیکو د ټینګښت لپاره بېلا بېل میکانیزمونه په لاره اچولي دي. یو له دغو میکانیزمونو څخه د قطر په پلازمېنه دوحه کې د دوحې د ناستې په نوم د ناستو جوړېدل دي چې د ملګرو ملتونو په مشرۍ او د بېلابېلو هېوادونو د استازو په ګډون دایرېږي. د دوحې لومړۍ غونډه د ۲۰۲۳ز. کال د مې په لومړۍ او دویمه نېټه د ۲۱ استازو په  ګډون چې په کې د امریکامتحده ایالاتو، روسیې، چین، ایران، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغزستان، ترکمنستان، ترکیې، جاپان، هند، انګلستان، فرانسه، جرمني، ناروې، سعودي عربستان، قطر، اندونیزیا، متحده عربي اماراتو او د اروپایي ټولنې او د اسلامي همکاریو سازمان استازي شامل و، غونډه جوړه شوه. د دوحې د سرمشریزې دویمه غونډه د ۲۰۲۴ کال په فبرورۍ کې او درېیمه غونډه د روان کال د جون پر ۳۰ او د جولای په لومړۍ نېټه ترسره شوه. د دوحې درېیمه ناسته د افغانستان لپاره له څو اړخونو د هغې جملې د اهدافو، لومړیتوبونو او لاملونو په ګډون مهمه وه او پر همدې بنسټ ارزول کېږي او په دې مقاله کې پرې بحث کېږي.

### د دوحې د درېیمې ناستې موخې

د دوحې د غونډو لړۍ د امنیت شورا د ۲٦۷۹ او ۲۷۲۱ پرېکړه لیکونو په رڼا کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د استازي ښاغلي فریدون سینیرلی اوغلو د راپور په رڼا کې د «افغانستان د مستقل ارزونې راپور» تر سرلیک لاندې ترسره کېږي. په ټولیز ډول د دوحې د غونډو تر ټولو مهمې موخې د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته د امنیت شورا د پرېکړه لیکونو د حکمونو تعقیب دی، چې لاندې موضوعات په کې شامل دي: "د افغانستان وضعیت ته پوره رسیدنه، د طالبانو له حکومت سره د رغنده تعامل رامنځته کول ترڅو نړیوالې ټولنې ته د بیرته راستنیدو لاره هواره کړي، په همغږۍ او منظم ډول د نړیوالو د ګډون د زیاتولو په اړه اقدامات ترسره کول، ترڅو د دې ګډون په پایله کې، معنی لرونکی، بشپړ او د ښځو خوندیتوب رامنځته شي او افغانستان له ګاونډیانو او نړیوالې ټولنې سره مدغم شي نړیوال تعهدات پوره کړي. د دې موخو د لاسته راوړلو لپاره د ملګرو ملتونو له عمومي منشي څخه غوښتل شوي چې د امنیت شورا له غړو، د افغانستان په اړه له سیاسي اړخونو له هغې ډلې ښځو، مدني ټولنو او د سیمې د هېوادونو په ګډون یو ځانګړی استازی وټاکي چې د افغانستان په اړه معلومات ولري او د بشري حقونو په برخه کې تخصص ولري. البته په دې ټینګار شوی چې ځانګړی استازی باید د یوناما ماموریت ته له زیان رسولو پرته خپل کار ته دوام ورکړي. او اجنډا کې لاندې دوه اساسي مسایل شامل دي:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

1-. د افغانستان بشري او اقتصادي وضعیت ته رسیدنه.

2. د اسلامي امارت سره د اړیکو او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د بیا یوځای کیدو لپاره د اغیزمن میکانیزم جوړول.

د دې اجنډا له مخې په لومړۍ ناسته کې د ښځو او نجونو د تعلیم او کار حق او له اسلامي امارت سره د تعامل د لارو چارو په اړه تر ټولو مهم موضوعات مطرح شول. په دویمه ناسته کې په منظم ډول د نړیوالو دمشارکت زیاتوالی؛ د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي ټاکل، د رغنده تعامل لپاره د بنسټیزو ځانګړتیاوو پیژندنه او هغه اصول چې د اسلامي امارت د پالیسیو په اړه د نړیوالو اندیښنو انعکاس کوي، خبرې وشوې. د دوحې په دریمه ناسته کې مخکې له مخکې ټاکل شویو هدفونو سره سم باید د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي پر ټاکلو، د یوه ټول شموله حکومت پر جوړېدو، پر بشري حقونو په ځانګړې توګه د ښځو د تعلیم او کار حق په اړه باید بحثونه شوي وی، خو د نظریاتو او لیدلورو د اختلاف له امله او په ځانګړې ډول د اسلامي امارت د غوښتنو له امله د غونډې اساسي اجنډا بدلون وموند او په اجنډا کې د اقتصادي او بانکي بندیزونو بیا کتنه، د خصوصي سکتور اقتصادي محدودیتونه، د افغانستان د بهرنیو اسعارو د زیرمو خلاصول او له نشه یي توکو سره د مبارزې څرنګوالی وټاکل شو.

## د دوحې د درېیمې ناستې او تېرو غونډو ترمنځ توپیر

د دوحې درېو غونډو سره له دې چې په کې ګډې موخې تعقیب شوې، بیا یې هم له یو او بل سره توپیر درلود. لومړی توپیر د جوړښت د جوړښت له مخې و. که څه هم د نړیوال جوړښت له مخې د درې واړو غونډو تر منځ ترتیب کې کوم توپیر نه و، خو په داخلي توګه د درې واړو غونډو ترمنځ تر ټولو لوی توپیر په غونډه کې د افغان استازو شتون و. په لومړۍ ناسته کې د افغانستان له لوري هېڅ استازي ته بلنه نه وه ورکړل شوې او دغه ناسته یوازې د هېوادونو او ملګرو ملتونو د استازو ترمنځ شوې وه. له هغې غونډې وروسته د ملګرو ملتونو سرمنشي د دې پوښتنې په ځواب کې چې ولې اسلامي امارت ته بلنه نه وه ورکړې شوې، وویل چې دا لا وختي دی چې طالبانو ته دغه ډول ناستو کې د ګډون بلنه ورکړل شي. په دویمه ناسته کې د اسلامي امارت له دعوت سره سم د مدني ټولنې او ښځو په استازیتوب دوه ښځې (شاګل رضایي او محبوبه سراج) او یو نارینه (لطف الله نجفي زاده) هم رابلل شوي وو. عجیبه او غیر متوقع پرمختګ دا وو چې په دویمه غونډه کې ملګرو ملتونو اسلامي امارت ته بلنه ورکړه، خو اسلامي امارت خپل شرطونه وړاندې کړل او تر ټولو مهم شرط دا و چې اسلامي امارت باید د افغانستان د یوازیني استازي په توګه ګډون وکړي چې د ملګرو ملتونو له لوري ونه منل شو او اسلامي امارت هم په کې ګډون ونکړ.. دویم توپیر د بحث موضوعات وو. په لومړۍ او دویمه ناسته کې د غونډو اجنډا د امنیت شورا د پریکړو له مخې ترتیب شوې وه، خو په دریمه ناسته کې اجنډا د ټاکلو موخو پر بنسټ وه. لکه د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي ټاکل، د بین المللي تماس ګروپ جوړول

او د اسلامي امارت سره د اړیکو د څرنګوالي په اړه پوهیدل، خو د افغانستان په مسایلو کې د مختلفو لوبغاړو د متضادو ګټو له امله او په ځانګړي توګه د اسلامي امارت د لیدلوري له امله له ډېرو مشورو وروسته د غونډې په اجنډا کې پر اقتصادي او بانکي بندیزونو، د خصوصي سکتور اقتصادي محدودیتونو، د افغانستان د بهرنیو اسعارو د زېرمو ازادول او له نشه يي توکو سره د مبارزې څرنګوالي په اړه بحثونه وشول. دریم توپیر د ګډونوالو دریځونه وو. په لومړۍ ناسته کې نږدې ټولو ګډون کوونکو او اړخونو یو شان دریځونه درلودل او ټولو د بحث شویو موضوعاتو په اړه هوکړه وکړه. په دویمه ناسته کې یو شمېر هېوادونه (روسیه، چین او ایران) د هغې اصلي موضوع پر خلاف وو، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي ټاکل وو. په دریمه ناسته کې د اسلامي امارت په ګډون نږدې ټولو اړخونو د غونډې د موضوعاتو په اړه نږدې یو شان نظر درلود. دغه توافق کولای شو د اسلامي امارت د ویاند د رضایت او مننې له څرګندولو څخه چې د اسلامي امارت د پلاوي د مشر په توګه يې په دې غونډه کې ګډون کړی و معلوم کړو. که څه هم هغه د ایکس ټولنیزې شبکې له لارې د غونډې په اړه ښه نظر څرګند کړ او د روسیې، چین، ایران، پاکستان، قزاقستان، ازبکستان، قرغزستان، ترکمنستان، امریکامتحده ایالات او د اسلامي کنفرانس سازمان د استازو دریځونه وستایل، خو تر ټولو مهم توپیر چې د دوحې په دریمه ناسته کې ولیدل شو او له تیرو دوو ناستو څخه يې په بشپړ ډول توپیر درلود د اسلامي امارت د شرایطو په اجنډا کې شاملول وو. په بل عبارت، د دوحې دریمه ناسته په بشپړ ډول د اسلامي امارت د غوښتنو له مخې پرمخ لاړه. د اسلامي امارت لومړی شرط د افغانستان د یوازیني استازي په توګه د امارت رابلل او دوهم شرط يې د هغو موضوعاتو ټاکل و چې باید په غونډو کې پرې بحث وشي. لکه څنګه چې لیدل کېږي د اسلامي امارت دواړه شرطونه د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې لخوا ومنل شول.

## د دوحې په دریمه ناسته کې د بحث موضوعات

د موضوعاتو په اړه د دوحې دریمه ناسته په دوو برخو ویشل شوې وه. په یوه برخه کې هغه مسایل چې په مستقیمه توګه د اسلامي امارت د نړیوالې ټولنې د غړي په توګه په رسمیت پیژندلو پورې اړه لري او په بله برخه کې هغه مسایل چې مستقیما د افغانستان له اقتصادي وضعیت سره تړاو لري، خبرې شوې دي. په لومړۍ برخه کې چې له اسلامي امارت څخه د نړۍوالې ټولنې عمومي غوښتنه ګڼل کیدای شي، له اسلامي امارت څخه غوښتل شوي چې د ملګرو ملتونو د نړیوالو کنوانسیونونو د منلو په موخه عمل وکړي چې افغانستان يې له وړاندې غړیتوب درلود. البته، دا ډول عامه غوښتنه کولی شي ټول اړخونه تر پوښښ لاندې راولي، د بشري حقونو درناوی او ښځو ته د زده کړې او کار حق ورکولو په ګډون. د دې غوښتنې په ځواب کې د اسلامي امارت استازي دوه شرطونه راپورته کړل. لومړی شرط دا دی چې اسلامي امارت به هغه مهال کنوانسیونونه رعایتوي چې اسلامي امارت د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې راشي او دوهم شرط دا دی چې کنوانسیونونه له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه وي. په دویمه برخه کې له نشه یي توکو سره د مبارزې، د بانکي بندیزونو لرې کول، د افغانستان د بهرنیو اسعارو د زیرمو د ازادولو او د افغانستان د خصوصي سکټور



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د پیاوړتیا په اړه خبرې وشوې. په دې برخه کې د اسلامي امارت استازي ټول اړخونه متوجې کړل چې که نړیواله ټولنه یو باثباته او له ستونزو څخه پاک افغانستان غواړي، باید خپله پاملرنه او مرستې د افغانستان اقتصادي سکتور ته رياته کړي.

## د دوحې د دریمې ناستې لاسته راوړنې

د دوحې دریمه ناسته له دریو اړخونو څخه مثبته ارزول کیږي. لومړی اړخ په دې غونډه کې د اسلامي امارت د استازي معنی دار او تعریف شوی شتون و. اسلامي امارت په افغانستان کې د یوازیني مسؤول طرف په توګه چې اوس مهال په افغانستان کې د بشپړ حکومت واک لري، باید د نړیوالې ټولنې له خوا د یوه حقیقت په توګه ومنل شي. هیڅ غونډه تر هغه وخته بریالی کېدای نشي چې اسلامي امارت پکې د پام وړ حضور ونلري. معنی دار شتون یعنی دا چې اسلامي امارت به د افغانستان د یوازیني استازي په توګه په نړیوالو غونډو او حلقو کې رابلل کیږي. له همدې نظره د دوحې دریمه ناسته د افغانستان د ستونزو د حل په برخه کې یو مثبت او ګټور ګام ګڼل کیږي، ځکه د اسلامي امارت استازو په کې د پام وړ حضور درلود. دوهم اړخ چې د دوحې دریمه ناسته مثبته او هیله بښونکې ارزول کیږی هغه موضوعات دي چې د غونډې په اصلي اجنډا کې شامل وو. د افغانستان په اړه په تېرو دریېو کلونو کې په نورو ناستو کې په تېره بیا په دوحه کې د تېرو دوو ناستو تر ټولو لویه ستونزه د اجنډا پر سر معامله وه چې د افغانستان له لومړیتوبونو او اړتیاوو سره سمه نه وه. په حقیقت کې هغه اصلي خنډ چې د نورو ناستو ارزښت یې ډیر کم کړي و، د افغانستان د بیړنیو او اساسي لومړیتوبونو او اړتیاوو په اړه اختلافي نظر و، چې د دوحې په دریمه ناسته کې تقریباً له منځه ولاړ او د غونډې اجنډا د هغه څه پر بنسټ وه چې ټاکل شوې وه. دریم اړخ چې د دوحې غونډه خوشبینه کوي د اسلامي امارت سره د ښکیلتیا لپاره پر فشار راوړلو پرته اسلامي امارت سره د تعامل لاره غوره کول وو. د دوحې دریمې ناستې وښودله چې نړیواله ټولنه دې پایلې ته رسیدلې چې د اسلامي امارت په وړاندې تحمیلي سیاست بې ګټې او ناکامه پالیسي ده ځکه لیدل کیږي چې له نږدې دریو کالو وروسته هم د اسلامي امارت په چلند کې بدلون نه دی راغلی، نو اوس د دې وخت را رسېدلی چې دا ډول سیاست پرېښودل شي او پر ځای یې د تعامل تګلاره غوره شي.

## د اسلامي امارت لپاره د دوحې د ناستې لاسته راوړنه

د دوحې دریمه ناسته د اسلامي امارت لپاره له څو اړخونو له لاسته راوړنو ډکه وه. لومړی اړخ دا وه چې د ملګرو ملتونو په مشرۍ نړیواله ټولنه د لومړي ځل لپاره په عمومي او بشپړه توګه د اسلامي امارت شرطونه ومنل. که څه هم تر دې غونډې مخکې د ملګرو ملتونو چارواکو ټینګار کړی و، چې د دوحې په ناسته کې د اسلامي امارت ګډون د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې له خوا د هغه د تسلیمولو او رسمیت پېژندلو په



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

معنی نه دی، بلکې په عملي توګه هغه مهال چې ملګرو ملتونو د اسلامي امارت شرطونه ومنل، دا په ډاګه کوي چې ملګرو ملتونو ومنله چې طالبان د افغانستان یوازینی استازي او مسؤل اړخ دی. دوهم اړخ یې دا دی چې د ځینو هیوادونو او مخالفینو له اعتراضونو سره سره اسلامي امارت وتوانید چې د غونډې په اجنډا کې خپل د خوښې موضوعات ځای پر ځای کړي چې د افغانانو د اساسي او اړینو لومړیتوبونو څرګندونه کوي. دریم اړخ یې دا دی چې اسلامي امارت وکولای شول چې له یوه نړیوال فورم څخه په استفادې سره وکولای شي چې د امنیت، نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې، اقتصادي پرمختګ او له نړۍ سره د مثبت تعامل په ډګر کې خپلې درې کلنې لاسته راوړنې او په سیمه ییزه کچه اقتصادي اړیکې منعکسې کړي. څلورم اړخ یې دا دی چې اسلامي امارت له قوي ډیپلوماسۍ څخه په استفادې سره وکولای شول چې نړیواله ټولنه دې ته وهڅوي چې د افغانستان په اړه خپله پالیسي په داسې طریقه پرمخ یوسي چې د اسلامي امارت په خوښه وي. د اسلامي امارت لپاره د دوحې د ناستې بل مثبت اړخ دا و چې د نورو غونډو برعکس دا ځل اسلامي امارت د غونډې پایله او د ورته غونډو دوام د نړیوالې ټولنې د اقداماتو لکه بندیزونو لرې کولو، بانکي بندیزونو لرې کولو او د افغانستان کنګل شوې پیسو د خلاصون په موخه ونیسي. پنځم اړخ دا و چې د دوحې غونډه د اسلامي امارت د استازي لپاره یو ښه فرصت برابر کړ چې په دې غونډه کې له ډېرو ګډون کوونکو استازو سره دوه اړخیزه ملاقاتونه وکړي. که د دوحې غونډه کومه بله لاسته راوړنه ونه لري، دا چې د اسلامی امارت استازي په دې وتوانید چې په لنډه موده کې له شلو څخه د زیاتو هیوادونو له استازو سره وګوري دا خپله یوه لویه او ارزښتناکه لاسته راوړنه بلل کیږي. د دې ترڅنګ یوه بله مهمه لاسته راوړنه دا وه چې د دوحې درییمه ناسته د هغو مسایلو په اړه راوڅرخیدله چې په سیمه ییزه کچه پکې نړدې همغږي شتون لري. په بل عبارت، دې غونډې وښودله چې ختیځ محور په لویدیځ محور غالب شو.

## پایله

که څه هم دا چې د دوحې دریيمه ناسته به څه ډول پایلې ولري، دا قضاوت له وخته مخکې دی، خو دا ناسته د افغانستان لپاره له تېرو ناستو سره له ډېرو توپیرونو له امله مهمه بلل کېږي. په ټولیزه توګه د دوحې دریمه ناسته له نړۍ سره د اسلامي امارت د مثبت تعامل په برخه کې ستر پرمختګ وښود. په دې غونډه کې داسلامي امارت داستازو ګډون خورا مهم ارزیابي کیږي. سربیره پردې اسلامي امارت د افغانستان د یوازیني استازي په توګه منل دا وښودله چې نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د حکومت په توګه اسلامي امارت حاکمیت ته غاړه ایښې ده. بله مسئله دا وه چې د نورو غونډو برعکس په هغو موضوعاتو خبرې وشوې چې د څو اړخیزو ګټو او توقعاتو په ځانګړې توګه د اسلامي امارت د غوښتنو څرګندونه کوي. بله مسئله چې له اسلامي امارت سره د نړیوالې ټولنې د مثبت تعامل د پرمختګ ښکارندویي کوي دا ده چې نړیواله ټولنه دې پایلې ته رسیدلې چې د اسلامي امارت په وړاندې تحمیلي سیاست ناکامه او پر ځای یې یوه معقوله، منطقي او ګټوره پالیسي غوره او مثبت تعامل وکارول شي. که څه هم د دوحې د دریمې ناستې په اړه د یو



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

شمیر هیوادونو استازو منفي نظر درلود او اعتراض یې وکړ، خو د دوحې دریمې ناستې وښودله چې نړیوالې ټولنې په ښکاره توګه منلې چې د یوه ټول شموله حکومت د جوړولو او د ښځو د تعلیم او کار کولو حق د افغانستان داخلي مسایل دي او باید د فشار د الې په حیث تري ګټه پورته نه شي. احتمال شته چې اسلامي امارت په تدریجي ډول د افغانستان د داخلي دودونو او عادتونو له مخې د مناسبو حل لارو په لټه کې وي. ډېره مهمه پایله یې دا ده چې دا ځل اسلامي امارت د نړیوالو ټولنې پر اوږو بار واچاوه چې د بندیزونو د لیرې کولو په برخه کې په اغیزمنو اقداماتو سره د راتلونکو غونډو لپاره زمینه برابره کړي. په بل عبارت، اسلامي امارت نړیوالو ته وښود چې تر هغه وخته چې د بندیزونو او محدودیتونو لپاره موثر اقدامات نه وي شوي، د هر ډول غونډې جوړول به بې ګټې شي.

## وړاندیزونه

1. اسلامي امارت باید تل د خپل واضح او شفاف دریځ د وړاندې کولو لپاره له هر ډول میکانیزم څخه کار واخلي.

2. اسلامي امارت باید د هیوادونو د استازو له هغه منسجم نظر څخه په استفادې چې د دوحې په دریمه ناسته کې څرګند شو، له نړیوالې ټولنې سره خپل مثبت تعامل پیاوړی کړي.

3. اسلامي امارت د بین المللي کنوانسیونونو د رعایت په موخه یو داخلي کمیسیون جوړ او بررسي کړي چې په کومو شرایطو کې یې ومني او یا یې رد کړي.

4. اسلامي امارت باید د ښځو د تعلیم، کار او د بشري حقونو په نورو برخو کې د اسلامي شریعت په چوکاټ کې اقدام وکړي، تر څو د بهرنیانو لپاره بهانې پاتې نه شي.

## مأخذونه


[1]. میراحمد مشعل. «نگاه تحلیلی بر نشست دوحه برای افغانستان»، موسسه مطالعات راهبردی شرق، تاریخ نشر ۱۴۰۲/۱۲/۱۶ قابل دسترسی: www.iess.ir/fa/analysis/3690/

[2]. نذیر شینواری. «نگاهی به نشست‌های اول و دوم دوحه برای افغانستان»، سایت طلوع نیوز، تاریخ نشر ۱۱ /۱۴۰۳/۴. قابل دسترسی: https://tolonews.com/fa/afghanistan-189530

[3]. نگاهی تحلیلی به نشست دوحه ۳ در باره افغانستان. سایت بررسی تحولات افغانستان. تاریخ نشر ۱۴۰۳/۴/۱۲ قابل دسترسی: https://afghreviw.com

[4]. نشست دوحه با درخواست نمایندگان حکومت طالبان برای رفع تحریم‌ها پایان یافت. سایت بی‌بی‌سی فارسی تاریخ نشر ۱۴۰۳/۴/۱۱ قابل دسترسی: http://www.bbc.com


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بېړپرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000